پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۲/۰۱/۲۹

# چی فتنی په خوب بیدی وی ډیر ثواب وی

دلته لا خلک خوښوی د وینو رنګ درویشه ښایي و پای ته ژر و نه رسی داجنګ درویشه
( درویش درانی )

کله چی تازه ځلمیَ او دکابل پوهنتون د لومړیَ کال محصل وم، د دیموکراسیَ د لسیزی په پیل کی سیاسی جریانونه نوی منځته راغلی او د ځوانانو ګرمه وینه یی په خوټیدو راوستی وه. زه هم ددی بهیر څخه څنګ ته پاته نشوم او د روانی مسابقی په موخه می د نورو ځوانانو سره په وچ حوض کی لامبو وهله. د ګوتو په شمار می څو سیاسی اصطلاح ګانی لکه امپریالیزم، سوسیالیزم، ملی دموکراتیک جنبشونه، ارتجاعی او مترقی حکومتونه . . . او نور زده کړی وه. پدی وخت کی ښاغلی میوندوال د پارلمان د دولسمی دوری څخه د باور رایه اخیستل. ماته داسی ښکاریدل چی په نظری او عملی ډول په سیاست کی دومره وارد یم چی له هرچانه به د یوه هیواد مشرتوب په ښه توګه مخته بوزم. ډیر کلونه وروسته چی زده کړی می پای ته رسیدلی وی، د کابل پولی تخنیک انستیتوت کی استاد او دسیاست په نظری برخه کی می ډیرڅه لوستی وه، خو ځان راته په سیاست کی ډیر وړوکی ښکاریدی او فکر می کاوه چی په سیاست اصلا نپوهیږم. وروسته د تیری پیړیَ اویایم او اتیایم کلونه راغلل او دعملی سیاست سره می هم لړ تړاو وموند. دا وخت په عمل کی راته څرګنده شوه چی سیاست څومره پیچلی کار دی. زه اوس پدی اند یم چی عملی سیاست هیڅکله هم د نظری او کتابی لارو څخه د زده کړی وړ ندی. په سیاست کی پوخوالی ان په پرمختللو او با تیکاوه هیوادونو کی هم یوه پرمانینت پروسه ده او په وروسته پاتو هیوادونو کی د ټولنی اناټومی په دقیق ډول پیژندل و اوږدو کالو عملی کارته اړتیالری. د ټولنی عینی او ذهنی شرایط، د قواوو توازون، د پرګنو غوښتنی، دخپلو ملی ګټو او په سیمه او نړیَ کی د اړوندو هیوادونو د ملی ګټو تر منځ منطقی انډول په پام کی نیول، د زبرځواکونو سره ددغو ګټو پر بنسټ سیاسی اړیکی ساتل، دهیواد پر بیلابیلو قشرونو او سیاسی کړیو باندی دسیمی او نړیَ په کچه د خارجی استخباراتو اغیز ته پام اړول او نوری اړینی چاری هغه څه چی سیاستوال چارواکی باید په ټینګه پاملرنه ورته وکړی او ځان په هراړخیز ډول پری پوه کاندی.

دا ټولی چاری هغه وخت لا زیاتی پیچلی کیږی چی د هیواد امنیت خړپړ، سیاسی ټیکاو کمزوریَ او ملی وحدت چی د ملی لوړو ګټو دخوندی ساتلو دپاره بنسټیز توکیَ دی، زیانمن شوی وی. په دغسی شرایطو کی ټولنه د خارجی استخباراتو په وړاندی خورا زیان منونکی ده. لیوه له خدایه باد او باران غواړی، د استخباراتو مرګونی ویروسونه پدی وخت کی چی د ټولنی د بدن مقاومت ټیټ دی، ډیر فعاله وی او کولای شی یوه ناعلاجه اپیډیمی منځته راولی. استخباراتی ویروسونه کیدلای شی ډیر وخت د ټولنی په اغیزمن شوو غړو کی غیرفعال پاته وی خو کله چی دهغوی فعالیت ته اړتیا پیداشی، سمدلاسه راپاځیږی او اعراض یی د لړزونکی تبی څخه نیولی تر هستیریک لیونتوب پوری ځان څرګندوی.

ددغه ډول ویروسی ناروغیو اعراض مو د خپل هیواد په سیاسی کړیو کی په ځانګړی توګه پدی وروستیو ورځو کی په څرګنده ولیدل. نژدی شپږ کاله کیږی افغان اولسمشر پدی پوه شوی دی چی په زور کلی نه کیږی او د امریکا په مشریَ د نړیوال ائتلاف جنرالان هم پدی پوه شول چی ددوی ستر توپونه او غول پیکره الوتکی د افغانانو په خاوره کی مؤثره وسله نده او طالبانو ته ددی لاری ماته ورکول ناشونیَ کار دی. افغان اولسمشر ښاغلی کرزی خو پدی اخیری کلونو کی هر ځل او په هر مناسبت چی میکرافون ته رسیدلی، خامخا یی په یوه یا بل ډول پر طالبانو ږغ کړی، هغوی یی د ورور او افغان بچی پنامه یادکړی او دسولی خبرو ته یی رابللی دی. ده پدی موخه یی بیلابیل کمیسیونونه، د امن جرګی، مشورتی غونډیَ او نور ورته محفلونه جوړ کړیدی او پدی توګه یی د روغی جوړی خبره ګرمه ساتلی ده. دده موئتلفو اړخونو هم یونیم وخت داموضوع په میخانیکی ډول تکرار کړیده. طالبانو بیا تل د کرزی او دده سره تړلو چارواکو دسولی وړاندیزونو ته منفی ځواب ورکاوه او ویل به یی چی ترڅو خارجی قواوی په افغانستان کی شتون لری، دسولی خبری اتری به یوازی د وخت ضایع کول وی. دوی دا خبره هم یادول چی امارت یی امریکایانو نسکور کړیدی نو که خبری کیږی باید د هغوی سره اوسی نه د افغانی چارواکو سره. ښاغلی کرزی په وارو وارو دخپلو وړاندیزونو په ترڅ دا یاده کړی هرچیرته چی دوی ( طالبان ) خپل ادرس راکوی، زه هم هلته د خبری کولو پاره ورځم تر څو ددغه ناورین څخه د خلاصون لاری چاری په ګډه ولټوو. لدی نه پرته د اپوزیسیون په مؤقف کی بیلابیلو ډلو ټپلو چی کله د جبهی، کله د ائتلاف او کله په نورو نومونو منځته راغلی دی، کله چی به یی د طالبانو د خوا په قاطع ډول منفی ځواب ارویدی او دا به یی زړه ته تیره وه چی طالبان سولی ته نه کښینی، نو به یی په مختلفو جمله بندیو سره ځانونه دسولی فرشتی ښودلی او ویل به یی « . . . صلح یګانه ګزینه ما است ». دوی پدی توګه څرګندول چی ګویا دوی هم د طالبانو سره دسولی دخبرو پلویان دی .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کله چې اوباما او دده ټیم ولیدل چې ددې جنګ غځول پسله دې نه د اقتصادي او سیاسي پلوه نور په امریکا کې د خلګو د زغم نه وړ ندې نو پخپله لاس پکار شوه، د طالبانو سره یې د جرمنې د استخباراتو په مټ اړیکې ټینګې او پدې موخه دواړې خواوې په قطر کې د طالبانو د پاره دیوه دفتر په پرانیستلو باندې هوکړې ته ورسیدل چې د طالبانو ویاند هم ددې خبرې پخلې وکړ. دې کار د کرزي د ائتلاف ډله او همدارنګه د ایران، روسیې او پاکستان دولتونه په مختلفو کچو وارخطا کړل. اوس نو ددې سره سم هغه وخت راورسیدی چې فتنې ویښیږې او ثواب په ګناه اړوي. داستخباراتو ښندل شوي ویروسونو سمدلاسه فعالیت پیل کړې او لړزونکې ټبه یې راوستل. د سي ای ایې هغه اړخ چې د اوباما ضد او د بوش سره تړاو لرې د ایران او روسي استخباراتو دلاري یې ددوی پلویان لکه محقق، دوستم او ضیامسعود په برلین کې پر کرزي باندې د فشار اچولو په موخه سره راټول کړل او د مرکزي ریاستي دولت بدیل یې فدرالي سیسټم دغیرمتمرکز دولت پنامه وړاندې، د طالبانو سره یې د حکومت د روغې جوړې خبرې رد کړې او خپل ځانونه یې د ناڅرګند دلیل له مخې دهغوی سره د خبرو اترو اصلي اړخ وګاڼه. دوی همداراز تهدید وکړ چې که د طالبانو سره دخبرو په اړوند ددوی غوښتنې د پامه وغورځول شي نو دوی به په هغو کارو لاس پورې کړې چې پایلې به یې ډیرې خطرناکې وې. د عبدالله عبدالله ډلې که څه هم دبرلین په غونډه ځان بدنام نکړ، مګر ده او پلویانو یې په خپلو خبرو کې د ګډون کونکو سره ورته غوښتنې په نورو جملو باندې یادې کړیدې. سیمه ایزو استخباراتو همدارنګه دطالبانو د تحریکولو او دخبرو دبهیر د ګډوډولو په موخه دڅو کالو مخکې هغه ویدیو کلیپونه رسنیو ته وسپارل چې په یوه کې امریکایي عسکر دوه تنه افغاني ماشومان جنسي ناوړتیا ته تشویقوي او په بل کې څو تنه امریکایي سربازان د وژل شوو طالبانو پر مړو باندې په ډله ایزه توګه بولي کوي، مګر طالبانو د هوښیارۍ نه کار واخیست او اعلان یې وکړ چې دا کار که هرڅومره ناوړه او دشرمه ډک هم دي خو دوی به پرې نړدي چې دخبرو اترو پیل شوې پروسه و ځنډیږي.

کرزي هم چې پدې کار سره د خپلې ائتلافي ډلې په ناوړه نیت خبر وو، نو یې په پیل کې د قطر هیواد په ور ګډیدو سره مخالفت وښود، عربستان یا ترکیه یې بدیل و ټاکه . ده غوښته پدې توګه د خبرو بهیر د یوې مودې دپاره وځنډوي تر څو د خپل ائتلافي ډلو ترمنځ اعتبار دلاسه ورنکړې مګر په پای کې یې د امریکا تر فشار لاندې په قطر کې د دفتر پرانیستلو سره موافقه وکړه خو داسې شرایط یې وړاندې کړه چې طالبانو ته به په سختۍ سره دمنلو وړ وي. دبیلګې په توګه خبرې اترې باید د افغاني چارواکو تر مشرۍ لاندې ترسره شي، طالبان باید وسله پر ځمکه کښږدي، اساسي قانون باید ومني او . . . .

ددغې موضوع په تړاو کرزي صاحب ته پکار ده لاندې ټکیو ته پام واړوي:

١ – سوله او امنیت دیوه هیواد دملي ګټو بنسټیزې توکې دي. ددغه توکي د ترلاسه کولو په موخه کیدلای شي ډیر نور څه په قرباني کې ورکړل شي.

٢ – ربښتنې سوله که د هر چا په مټ او ابتکار لاسته راسي ، باید درناوۍ یې اوسي .

٣ – دا مهم اصل باید له یاده و نه ایستل شي: هر څوک چې د سولې وړاندیز کوي ، هغه باید د مقابل لورې ډیر شرطونه ومنې تر دې چې خپل شرطونه ور باندې و تپې. داګړې چې دسولې وړاندیز ده ( کرزي صاحب ) رامخته کړې دی نو باید تر مقابل لوری، پخپله دی و زیات ګذشت ته تیارۍ وښئې نه داچې د نه منلو وړ شرایط وړاندې کړي .

۴ – سوله دهغه چا سره پکار ده چې ستا دولت مشروع نه بولي او ددوی په نظر د نامشروع دولت اساسي قانون ورته د منلو وړ نه وي ځکه یې نو و چپه کولو ته ملا تړلې او وسله یې پلاس کې اخیستې وي . که دوی وسله پرځمکه ایښې وي او اساسي قانون یې منلې وي ، بیانو عادي اتباع دي چې و رابللو ته اړتیا نشته .

۵ – سوله که هرڅومره کمزورې هم وي ، تر ډیرې زورورې جګړې ښه ده او په لاره کې قرباني که هر څومره زیاته هم وي بیا هم تر هغې قربانۍ کمه ده چې په جګړه کې اړتیا ورته پیدا کیږي .

۶ – دا خبره د پوهیدلو وړ ده چې د سولې داپروسه که هرڅومره افغاني وي دا ښه کار دی ، خوکه طالبان پر دې خبره ټینګار وکړې چې امریکایانو پرموږ حمله کړې ، حاکمیت یې راته نړولی ځکه نو زموږ مقابل لورۍ امریکایان دي ، باید ددوی سره خبرې وکړو او امریکا هم دې ته چمتو وي چې دسولې په موخه دطالبانو یولړ شرطونه ومنې ، نوبیا که دوی هم دیوې مثبتې پایلې دلاسته راوړلو دپاره خبرې ورسره پرمخ بوزي ، څه عیب لري ؟

٧ – داچې دومره کلونه افغاني چارواکو طالبان و خبرو اترو ته حاضر نه کړای شول او اوس امریکا دخپل مجبوریت له دوی حاضر کړې دي، باید دموقع څخه اړینه ګټه واخیستل سي نه داچې دسولې د ښکاره او پټو دښمنانو لکه دبرلین د غونډې ګډونوال او نورو تر اغیز لاندې پدې لاره کې خنډونه واچول شي.

٨ – د طالبانو بنسټیزه غوښتنې د تور لست څخه ددوی دغړو ایستل، ددوی دبندیانو خوشې کول او د افغانستان څخه دخارجي قواوو د ایستلو یو منطقي د قبول وړمهال ویش دی . داهغه غوښتنې دي چې یوازې امریکا یې ترسره کولای شي نه افغان حکومت. دا کار هم دسولې په خبرو کې دامریکا مرسته او صادقانه ګډون اړین کوي.

کرزي صاحب! دا خبره هم باید له پامه و نه غورځول شي چې داجګړه دخپلو ځاني او مالي تلفاتو سره ، هم د اقتصادي او هم دسیاسي پلوه د امریکا او ائتلافي هیوادونو دخلګود پاره نور د منلو وړ نده. که نن وي یا سبا ، په امریکا کې به حتما یو ګرباچوف پیداکیږي څو ددې خاورې نه دخپلو پښو وسپکولو ته لیځې راونغاړي. که داسې وي نو بیا به ښه داوي چې سر د اوس نه د طالبانو سره اړیکې ونیسي، یوې پریکړې ته ورسیږي او پدې توګه ځانته د اوړو یوه پزه



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جوړه او پربنسټ یی خپل قوتونه له افغانستانه وباسی. ددی درو لسیزو ناورین د افغانانو زغم نور پایته رسولی دی. پدی اور کی نه د دوستم، نه د محقق، نه دضیا مسعود، نه د ډاکترعبدالله او نه هم دفهیم او کریم خلیلی دبچیانو گوته سوزی. لدی نه پرته به په سوله کی ددوی شخصی مؤقف ته هم خامخا تر یوی کچی زیان ورسیږی، مګر ازبکان، تاجکان او هزاره ګان به د پښتنو او نورو وږونو قومونو پشان ستره ګټه تری پورته کړی. کرزی صاحب! داچی په سوله کی ستا خپل شخصی مقام هم ښایی زیان ومومی، نو که ته ددی خبرو اترو خنډ وګرځی بیا نو ټول اولس داپیره پر تا اچوی ځکه باید دی خبری پاملرنه و لری.

د بل پلوه ښاغلی کرزی ښایی د زړه د کومی دسولی غوښتونکی وی، خو داچی دی دسولی پر بشپړ بریالیتوب ډاډه ندی ځکه نو نه غواړی دیوی نامعلومی نسیه ګټی پخاطر اوسنۍ نقده ګټه دلاسه ورکړی ( این نقد بګیر و دست از آن نسیه بردار ...)  خپل د ائتلاف ډله له ځانه خفه او په عملی توګه یی د اپوزیسیون ځنګ ته و دروی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ